SHARIAT
شریعت
په اووني کي دوه ځله خپريږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
پنځم کال اوپايمه ګڼه پرله پسي (۳۵۷) سه شنبه د۱۴۲۱ هـ ق کال دجماد الثاني (۲۸)
د۱۳۷۹هـ ش کال د تلی دمیاشتی (۵) د ۲۰۰۰ميلادي کال د سپتمبر (۲۶)

په شمال کې د تصفیوی عملیاتو په دوام

د چال ولسوالي په بشپړه توګه تصفیه شوه

تالقان : باختر :
د تخار ولایت د چال ولسوالي د شر اچوونکو عناصرو له شتنه والي ځخه په بشپړه توګه پاکه شوه .
نوموړی ولسوالي ته د اسلامي اردو د ځواکونو د رسیدو په مهال یو شمیر مخالفینو تیښتې په نیت د ولسوالي له مرکز نه لرو سیمو او غرو کې ځانونه پټ کړي ؤ او غوښتل یې چې د خلکو آرام ژوند ګډ وډ کړي خو د اسلامي اردو د تکړه او فاتحو پوځیانو د نه ستړي کیدونکو هلو ځلو په دوام هغوی ونه توانیدل چې په خپل شوم هدف کې بریالي شي.
د اسلامي اردو مجاهدینو په ډیره چټکۍ سره د سیمې د خلکو په مستقیمې همکاری په هغو سیمو تسلط پیدا کړ چې مخالفین پکې ځای په ځای شوي و.
مجاهدینو د خپلو تصفیوی عملیاتو په ترڅ کې دغه سیمه په بشپړه توګه پاکه او زیات شمیر وسلې او مهمات یې تر لاسه کړل.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډير نيږدي دی تقوا (پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

از طریق بورد انسجام سرمایه گذاری :

ایجاد ۲۸ پروژه تولیدی تائید گردید

تولید گوګرد ، مشروبات غیر الکولی ، حجاری و نجاری و مصنوعات پلاستیکی شامل این پروژه ها میباشد

سرمایهء انتهایی این پروژه ها هشتادو پنج ملیارد و چهارصدو پنجاه و دو ملیون افغانی تثبیت گردیده است

با فعال شدن این پروژه ها برای (۱۱۲۴) تن از هموطنان ما زمینه کارمساعد میگردد

کابل - باختر :
۲۸ پروژه تولیدی وخدماتی دیروز مورد تائید بورد انسجام سرمایه گذاری خصوصی قرار گرفت.
جلسه بورد انسجام سرمایه گذاری خصوصی قبل از ظهر دیروز تحت ریاست محترم مولوی شجاع الدین «خدام» رئیس عمومی آن اداره دایر گردید ٤ مخ

د ستری محکمی شورا دایره شوه

کابل - باختر :
د ستری محکمی عالی شورا پرون د افغانستان د اسلامي امارت د قاضی القضات او د ستری محکمی د رئیس محترم مولوی نورمحمد ثاقب په مشری د ستری محکمی په مقر کی غونډه وکړه.
په پیل کی د قرآن عظیم الشأن څو مبارک آیتونه ولوستل شول ، وروسته محترم قاضی القضات او د ستری محکمی رئیس د هیواد د قضایی موضوعګانو او مسألو په باب هراړخیزه خبری وکړی او د خپلی عالمانه وینا په بهیر کی یې وویل : عالمان او قاضیان باید د محکمو د حیثیت د ساتنی په خاطر د استفاده
٤ مخ

کار احیاء شبکه آبرسانی قریه سهاک آغاز گردید

کابل - باختر :
کار احیا و باز سازی شبکه آبرسانی قریه سهاک ولسوالی پغمان ولایت کابل آغاز گردید.
شبکه آبرسانی قریه سهاک از کاریز محل آغاز گردیده و از منبع اصلی الی ذخیره دارای چهارصدو پنجاه متر طول و سی حلقه چاه ، ساطر و یک ذخیره به ظرفیت دوصد متر مکعب آب میباشد.
تمدید شبکه آبرسانی متذکره سالیان قبل از ذخیره متذکره صورت
٤ مخ

په کابل کې د ملي نندارتون ودانې تریبا رغوني وروسته . عکاس : یوسف

ا.ا.ا يگانه حكومت به حساب ميرود كه تا حال كوچكترين عقب نشيني از موضع خود نداشته است

محترم شیخ علی احمد «فکور» طبیب و کارشناس نجوم

خوشحال هستیم که سیاست فرهنگی کشور بر مبنای اندیشه اسلامی قوام دارد

سید عبدالمقدم «امین» محصل صنف چهارم پوهنځی حقوق پوهنتون کابل

به منظور تامین دو دقیقه تلیفون مجبور بودیم یک هفته به پاکستان سفر نمائیم

محترم حاجی محمد کبیر عمر ۶۸ ساله باشنده شهر کابل

ما این امر را اولویت میدهیم که درچارچوب منزل مصئون و باعفت زندگی میکنیم

محترمه سویتا «نوری» قبلاً محصل انستیتوت طب کابل :

خواننده گان عزیز ! فردا چهار شنبه ششم میزان مصادف است به پنجمین سالروز فتح شهر کابل توسط تحریک اسلامی طالبان در افغانستان .
خبرنگار ما به پیشواز از این فرخنده روز گزارشی را دررابطه به اینکه تحریک اسلامی طالبان طی چهار سال اخیر چه مقدار توانسته است برخواسته های ملت جواب
ص ٤

د ګردیز - خوست د لویی لاری د ترمیمولو کار پیل شو

کابل - باختر :
د ګردیز او د خوست ولایت د مرکز ترمنځ د لویی لاری د ترمیمولو کار پیل شو.
د باختر اطلاعاتی آژانس خبرراکړ دغی لویی لاری د ترمیمولو کار د غورمبی له سیمی څخه پیل او د سعید خیلو ترسیمې پوری چې شیږ ځلوریشت کیلو
٤ مخ

په کابل کی دوه تنه غله ونیول شول

کابل - باختر :
دوه تنه غله په دی وروستیو وختو کی د کابل ښار د ۱۱ امنیتی حوزی په مربوطاتو کی لاس په لاس
٤ مخ

د ایران دولت له اسلامی امارت سره د فرهنګی همکاری تیاری وښود

کابل - باختر :
د ایران هیواد تیار دی چې د افغانستان له اسلامي امارت سره د فرهنګی همکاریو د پراختیا په لاره کی زیاتی هلی ځلی وکړی.
د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغې کتنه کی چې د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مفتی لطیف الله «حکیمي» د هرات په ولایت کی د ایران هیواد له جنرال قونسل محترم هادي مشهدی سره وکړه دواړو خواوو د دواړو هیوادونو ترمنځ د فرهنګی اړیکو په باره کی خبری وکړی او ددغه شان دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا غوښتنه یی وکړه .
په دی کتنه کی د ایران جنرال قونسل تیاری څرګند کړ چې متبوع هیواد یې

در بخش اورتوپیدی اکادمی علوم قوای مسلح ا.ا.ا :

عملیات اعادوی عظام صورت میگیرد

شریعت : خوانندگان نهایت عزیز ! محترم خبرنگار ما اینبار در مورد وضع تعزیرات اقتصادی بالای کشورما وتأثیرات سؤ ناشی از آن بالای مردم افغانستان مصاحبه را با محترم پوهنمل ٤ مخ

د کار او ټولنیزو چارو د لوي رياست ودانۍ د بيا رغوني په درشل کي . عکاسي یوسف

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

موږ سیمې او ګاونډیو هیوادو ته سوله او سوکالی غواړو

د افغانستان اسلامي امارت چې د افغان مؤمن ولس د لکونو بچیانو په قربانی او کلک ملی ملاتړ منځ ته راغلی او تل یې هڅه کړی چې د هر ډول توپیر نه پرته د ګردو هیواد والو روا غوښتنی اوملی ارمانونه ترسره او په سیمې مانایی استازیتوب وکړی ، په ډیر صراحت سره یې همیشه په دی خبره ټینګار کړی چې افغان ولس سولی او ثبات ته سخته اړتیا لری او هیڅکله دانه غواړی چې د بهرنی یرغل او بیا وروسته د اوږدی کورنی جګړی نه پس بیا هم د کوم بل هیواد اویا ګاونډیانو سره څه ستونزې ولری - د اسلامي امارت دا بهرنی پالیسی د ګرد افغان ولس د ملاتړ
ص ۲

شريعت

دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کی (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

څخه برخمنه ده او په دی کې هيڅ شک نشته چی اوس د هر افغان همدغه دريځ دی چې بايد په خپل هيواد کی سوله راولی ، کار او ودانی ته ملاوتړی او د هيچا سره څه ستونزی ونه لری . د افغانستان اسلامی امارت په وراوار ددې خبرې پخلی کړی چی مونږ هيڅکله چاته څه گوانښونه او خطر نه پيښوو ، د سيمی او گاونډيو هيوادو سره روغه جوړه او دوستی غواړو او دوی هم بايد د متقابل درناوی پر بنسټ له مونږ سره روا او ښه چلند وکړی - مونږ دا خبره عملاً ثابته کړی او ټول نړی وال شاهدان دی چی زمونږ د هيواد اوږدی پولی د امارت د قيام نه راوروسته د پاکستان، ايران ، ترکمنستان او ازبکستان سره بالکل آرامی او داډ منی دی ، په تيرو څلورو کلو کې هيڅ داسې کومه ستونزه نه ده پيښه شوې چی د ښه گاونډی توب پر خلاف مو کوم هيواد ته څه خطر اوتهديد متوجه کړی وی ، په دی لړ کې د منځنی آسيا د هيوادونو په هکله - چې ځينې بی د څه انديښنو يادونه کوی - بايد ووايو چی له ترکمنستان سره زمونږ ښی اړيکی دا په کلکه ثابتوی چی نوموړی انديښنی هيڅ حقيقت نه لری او په کار ده چی پاتی نور هيوادونه هم همدغه تگلاره غوره ، د خپلو ملی گټو او اقتصادی ښيرازی د پاره له افغانانو سره د ورورې او دوستی اړيکی ټينگی او د بل چا د مغرضانه لمسونو پروانه ساتی - دغسی دريځ نه يوازی افغانانوته نه ، بلکی په خپله دوی او ټولی سيمی ته ډير گټور وی - په دی ډول به دلته بشپړ ثبات او استحکام رامنځ ته او ددغو ولسونو ودانی او سوکالی ته به لاره هواره شی - افغانستان د منځنی آسيا او په ځانگړی توگه د گاونډيو هيوادونو سره ژورې مذهبی اوکلتوری لرغونی او تاريخی اړيکی لری او ددغو ولسونو د خپل منځی دښمنی او تاوتريخوالی د پاره هيڅ عامل او دليل نشته - نو ښکاره ده چی کومی حلقی ددې ولسونو ترمنځ د بی باوری ، دښمنی او اختلافاتو د پاره تبليغات او پروپاگند کوی ، پرته له دی چې د سيمی په اقتصادی زيرمو د واکمنی خوبونه وينی ، بل هيڅ مقصد نه لری ، او دغی خطرناکې دسيسی ته بايد ټول په ښه ډول پاملرنه وکړی - اوس چې د ازبکستان مشران د اسلامی امارت په هکله د ښه نيت څرگندونه کوی ، مونږ بی په بشپړ ډول هرکلی کوو او بوځل بيا تکراروو چې بايد زمونږ له لوری بيخی ډاډه واوسی - مونږ به هميشه د ښه گاونډيتوب په اصولو ولاړ يواو دا به راتلونکی وختونه په خپله ثابته کړی په دی ترځ کې د تاجکستان او د سيمی نوروهيوادوته هم ښايی د خپل دريځ بوځل بيا کتنه وکړی ، د افغانستان پر خلاف له لمسوونکو اعمالو لاس واخلی او د دوستی او روغی جوړی اصولی تگلاره خپله کړی . مونږ له هغوی سره هيڅ مشکلات نه لرو ، يوازی همدومره وايو چی بايد د متقابل احترام اصول مراعات شی - داچې اوس د لوی خدای په مرسته زمونږ په هيواد کې نظم او ثبات مخ په ټينگيدو او د جنگ جگړو اسباب او عوامل په کميدو او له منځه تلو دی نو دا د ټولو او خصوصاً گاونډيو هيوادونو او نړی والی ټولنی مسئوليت دی چې پر خپل دريځ له سره غور وکړی ، حقايق او واقعيتونه درک اوزمونږ برحقه غوښتنو ته مثبت ځواب ووايی د اسلامی امارت او نړی والو ټولنو ترمنځ څه واټن او بيلتون نه وی او د ټولو کشالو په حل کولو کې د دوه اړخيز تفاهم او خبرو اترو لارخپله کړی شی.

د(۱۳۷۸) دتلی له (۷)نيټی نه د (۱۳۷۹) دتلی تر(۷) مې نيټی پورې دهيواد دمهمو پيښوکرنولوژی

د ۱٤۲۰ کال د جمادي الاخر په ۲۰ مه د۱۳۷۸دتلي دمياشتي په ۸مه جلال آباد کي دکانو او صنايعو دوزير محترم مولوي احمد جان اودهيواد ديوشمېزملي سوداگرو تر منځ دجنو پرس دفابريکی دجوړولو قرارداد لاسليك شو اويدي پريکړه وشوه چي په دغي فابريکه کي به دمالوچو په پروسس برسيره غوړي اوتيل هم توليدېږي .

د ۱٤۲۰ دجمادي الآخر په ۲۳مه د۱۳۷۸دتلي په ۱۲مه دسرپرستي شورا دريس لخوا دبوه لاسليك په

ترځ کي رسما له اسلامي کانفرانس نه وغوښتل شول چي دافغانستان چوکی اسلامي امارت ته وسپاري.

*د ۱٤۲۰دجمادي الآخر په ۲٥مه د۱۳۷۸دتلي په ۱٤مه دعاليقدرامير المؤمنين ۲٤گنه حکم صادر شو . په نوموړي حکم کي دهيواد له بزگرانو نه وغوښتل شول چي دکوکنارو کرنه دې بوه په دريمه برخه کمه کړي .

*د ۱٤۲۰دجمادي الاخريه ۲٦مه د۱۳۷۸دتلي په ۱٥مه امريکايي چارواکو دملگروملتونو دامنيت له شورانه وغوښتل چي داسلامي امارت الوتکوته اجازه ورنکړي چي بهرنيوملکونوته الوتنې

وکړي اوهمدارنگه دي په بهرکي داسلامي امارت په شتمنيو باندي بنديزولگوي ترڅواسلامي امارت مجبورشي چي اسامه امريکاته وسپاري .

*د ۱٤۲۰دجمادي الاخر په ۲۷مه د۱۳۷۸دتلي په ۱٦مه له اوه کاله څخه وروسته دکابل پوهنتون علمي مجله له چاپه راووته .

*د ۱٤۲۰درجب المرجب په ۷مه د۱۳۷۸دتلي په ۲٤مه ملگروملتونو پريکړه وکړه چي داسلامي امارت لخوا داسامه بن لادن دنه سپارلو په صورت کی به ديوي مياشتي په اوږدوکي نوي بنديزونه ولگوي .

*د ۱٤۲۰درجب په ۱۰مه د۱۳۷۸دتلي په ۲۷مه دعاليقدر اميرالمومنين هغه فرمان صادرشو چي درشوت اخيستونکي لپاره يکي دېنځو کالوبند سزاټاکلي شوي ده .

*د ۱٤۲۰درجب ۱۱مه د۱۳۷۸دتلي په ۲۸مه دافغانستان لپاره دملگروملتونو خاص استازي اخضرابراهيمي وروسته له دې چي په ورسپارل شوي دنده کي له ناکامی سره مخامخ شوله خپلي دندي څخه بي دگوښه کيدوليك اړونده مقاماتوته وسپاره .

*د ۱٤۲۰درجب په ۱۸مه د۱۳۷۸دلړم په ٥مه دعاليقدراميرالمومنين دبوه ځانگړي حکم له مخي داسلامي امارت په ملکی اونظامي اداراتوکي يو لړمهمي نوي ټاکنې وشوي اوله دغوټاکنوسره سم داپريکړه وشوه چي نوربه دوزيرانو له نوم سره دسرپرست وزيرپه ځاي دوزير کلمه ليکل کيږي .

*د ۱٤۲۰درجب په ۲٤مه د۱۳۷۸دلړم په ۸مه دافغانستان اسلامي امارت يوه رسمي اعلاميه صادره کړه په هغي کي داسي راغلي ووامريکااو روسيه داسلام دښمنان دي له تروريزم سره دمبارزي په پلمه بي له اسلام سره دمقابلي لپاره مټي رانغښتي امريکاد اسامه بن لادن په اړه داسلامي امارت وړاندېزونه نه دي منلي يدې اړه مونږته بله هيڅ لاره نده پاتي پرته له دې چي خپل ځانونه داسلام ددفاع په خاطر تراسلام قربان کړو.

*د ۱٤۲۰دشعبان په لومړي نېټه اسلامي امارت په خپلو مخالفينوغږ وکړ چي له مخالفت نه لاس واخلي اوله اسلامي امارت سره يوځاي په چيچنيا کي دمسلمانوچيچنيانو دمرستي لپاره ورودانگي .

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۲مه د۱۳۷۸دلړم په ۱۹مه دهيواد په مرکزاوبيلا بيلوولاتونو کي دملگروملتونو لخوادلگول شويوبنديزونو پرخلاف پراخي مظاهري وشوي

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۸مه د۱۳۷۸دلړم په ۲٥مه دمخالفينو لخوا په افغانستان باندي دملگروملتونو لگول شوي بنديزونه تائيداو هغه يې گټورويلل .

*د ۱٤۲۰دشعبان ۹مه د۱۳۷۸دلړم په ۲٦مه دهيواددمرکزي ولاياتوغزني ،پکتيا اوخوست له مرکزسره تليفوني ارتباط تامين شو .

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۱۰مه د۱۳۷۸دلړم په ۲۷مه داسلامي امارت دبهرنيوچاروورازت په يوه رسمي غوښتنه کي له اسلامي کنفرانس نه وغوښتل چي په چيچنيايي مسلمانانو باندي دروسانو مظالم اوتيري وغندي .

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۱۱مه د۱۳۷۸دلړم په۸مه دامارتي اوايراني چارواکو دتفاهم له مخي داسلام قلابندرداافغاني سوداگرويرمخ پرانستل شو .

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۱٤مه د۱۳۷۸دليندي په لومړي ورځ دحربي پوهنتون، هوايي مدافعي، اوهوايي پوهنتون دتخنيك اکادمي، اودحربي ښوونځي لومړي دوره فارغان پوځلي ته وړاندي شول او د امارتي چارواکو له خوا ډيپلومونه وربانديي وويشل شول.

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۲۷مه د۱۳۷۸دليندي په ۱٥مه له اووکلو څخه وروسته دماهيپردبريښنابوټورين د۲۲ميگاواټيږيه ظرفيت جوړاوداستفادي وړوگرځيده .

*د ۱٤۲۰دشعبان په ۲۸مه د۱۳۷۸دليندي په ۱٥مه اسلامي امارت ديوي رسمي اعلاميي په ترځ کي دنړي له اسلامي هيوادونو څخه وغوښتل چي په چيچنيا باندي دروسانو تيري محکوم کړي اوله هغو سره يوځاي دخپلوچيچنيايي مسلمانوروڼو ومرستي ته چمتوشي.

د ۱٤۲۰دشعبان په ۲۹مه د۱۳۷۸دليندي په ۱٦مه دروژې دمبارکي مياشتي دراتلو په مناسبت داسلامي امارت ديوخاص هدايت له مخي ٤٥۰تنه بنديان دځرخي پله له زندان څخه او ۱٤تنه دکندزله محبس څخه خوشي شول .

*د ۱٤۲۰درمضان په ۱۷مه ده ۱۳۷۸دمرغومي دمياشتي په ۲٤مه يوه هندي الوتکه چي دنامعلوموکسانو لخوانيښتول شوي وه دکندهارپه بين المللي ډگرکي دهندي حکومت په خوښه داسلامي امارت لخوا ورته دښکته کيدواجازه ورکړل شوه.

*د ۱٤۲۰درمضان په ۲۳مه د۱۳۷۸دمرغومي په ۱۰مه دهندي تښتول شوي الوتکي لا نجه داسلامي امارت په هلوځلو سره په سوله ايزه توگه حل شوه اوالوتکه له يرغمل شويو سره يوځاي دهنددبهرنيوچاروزيرته وسپارل شوه .

*د ۱٤۲۰درمضان په ۲٥مه د۱۳۷۸دمرغومي په ۱۲مه ۱٤۲ تنه بنديان دځرخي پله اوکندهارله زندانو څخه خوشي شول .

*د ۱٤۲۰دشوال په ٤مه د۱۳۷۸دمرغومي دمياشتي په ۲۱مه دمخالفينويوتن مشهورقوماندان آغاشيرين سالنگي داسلامي امارت له ځواکونو سره يوځاي شو .

* د ۱٤۲۰ د شوال په (۹) مه د ۱۳۷۸ د مرغومي په ۲٦ مه نيټه د اسلامي امارت له خوا د چيچن مستقل اسلامي جمهوريت په رسميت وپيژاندل شو.

*د ۱٤۲۰دشوال په ۱۱مه د۱۳۷۸دمرغومي په ۲۹مه دملگروملتونو لخوادافغانستان لپاره نوي ځانگړي استازي فرانسيس وندرل وټاکل شو.

*د ۱٤۲۰دشوال په ۱٦مه د۱۳۷۸دسلواغي په ۳مه دچيچنيا سفارت په رسمي توگه په کابل کی پرانستل شو.

*د ۱٤۲۰دشوال په ۳۰د۱۳۷۸دسلواغي په ۱۷مه داريانا افغان هوايي کرښي الوتکه ديرغمل کوونکو لخوا وتښتول شوه اوله څلورورځنی سفره وروسته په انگلستان کی راکوزه شوه . پاتی لری

... ورځه نور هيڅ نه سيي خو دايوه لويه تاريخي کارنامه ده!

فاروق

د هيواد ځمکنی بشپړتيا او ملی سالميت يادوم او دا ځکميادوم چې ښايی هر هيواد وال که ملا دی که امی ، که طالب او که مخالف ، که پښتون يا تاجک او هزاره او که پير دهيا فقير بس ټولو ته به يو شان ارزښت لری او بايد هر يو د همدی لوی ملی ارمان د پاره هلی ځلی او قربانی هم ورکړی ، ددی په ارزښت هم بايد ټول قانع وی او که څوک بی بی ارزښتنه بولی بايی د کمزورتيا په هڅو بوخت وی نو هغه په حقيقت کی د کوم خاص گروپ مخالف نه ، بلکی د هيواد د يو لوی ملی ارمان ، تاريخی ويا ړونو اود عام ولس د مهمو گټو سره دښمنی لری او داسی کسانو ته په گرده نړی کی «ملی خائن» ويل کيږی.

د گران هيواد په وياړلی تاريخ کی د يو شمير «ملی خائنانو» نومونه هم ثبت دی چی وخت په وخت بی د بهرنيو دښمنانو سره لاس يو کړی په خپل غولی بی دروليی ، د هيواد شتمنی بی په ډيره دووسه بيه وريلورلی او د خپلو ورونو په وژلو او څوروولو کی بی مرسته ورسره کړی ده . خو د قادر او غيرتی خدای جل جلاله نه ځار شم چی بيا ددغسی بی همتا نو قبرونه هم روغ نه دی پاتی شوی او د بی ننگی له نامه پرته بی نور د هيڅ شی لوری او لودن نه دی معلوم - بهرنی دښمنان خو يو هيواد ته نيغ په نيغه نه شی ورتلای خو ددی موخی د پاره بی په هغه هيواد کی مخکی لا يوځو گوډاگيان او نوکران روزلی او خبره بی ورسره خلاصه کړی وی - ددی خبری بيلگی اوس هم زمونږ د هيواد په يو گوټ کی شته ، که څه هم نن سبا يی خبره بيخی خرابه ده خو که ښه څرگندتيا غواړی نو راځئ د هيواد د دری څلور کاله مخکی حالاتو ته ځغلنده جاج واخلو ، هغه وخت چی په هيواد کی څلور پنځه

خپلواکه پاد شاهی گانی جوړی وی ، پاد شاهی څه چی د امپراتوری نه بی هم ورتيره کړی وه او پاد شاهی خو يی د مور شيدی مگر افسوس خو بی په نوکری او گوډاگيتوب کوڅ چی څنگه به بی د بهرنيو بادارانو خبری ټکی په ټکی عملی کولی ، ډيری بی څوروونکی خو همدا پردی لاس وهنی وی چی سبا بيگا به بی الوتکی ورته راډکی کړی وی او په هر «پايتخت موقت» کی به بی د جگړه ايزو اړتياوو او مهماتو دلی ورته جوړی کړی وی د خراسان «پايتخت موقت» ، د هزارستان «پايتخت موقت» او د ولايات شمال «پايتخت موقت» ټول د افغان وژونکو اوروتو او باروتو څخه ډک وکړ، په دی ټولو موقتو پايتختونو کی هوايی ډگرونوته څکه پاملرنه کيده چی يو خو به بی د دوستانو دغه باری ددی الوتکی شپه او ورځ را چليدی او بل به وخت ناوخته بيا د همدغو بلا عوضه مرستو (!) دسپی ويشلو د پاره (مهمان خصوصی) هم ډير راپيښيده - بروجردی صاحب ، شف چنکه (په مزار کی د روسيي کونسل) ، پيټر شير شوف (د روسی پارلمان يو غړی او د افغانستان څارونکی) او يوه نيم بل په خامخا په اوونی کی دوه دری ځله باميان ، مزار او پنجشير ته سر راښکاره کړ او هر ځل به بی له خپلو (پايتخت اصلی) څخه د جگړو د پاره نوی ستراتيژی راوړی وه - همدا ښاغلی په حقيقت کی د افغانستان د اروندی برخی اصلی حاکمان وچی په خپلو

ورسپارل شوو دندو کی بی په خورا اخلاص منڍی تړلی وکړی - بهرنيو مغرضو لاس وهونکو يوازی په جگړه ايزو لاس ته راوړنو چيرته بسنه کوله ، بلکی اصلی هلی ځلی خو يی د مذهبی ، کلتوری او ثقافتی موخو د پاره وی او زمونږ يو گاونډی خو په دی کار کی بيخی ماستر دی ، د راډيويی او تلويزيونی خپرونو په دستگاو برسيره بی په زرگونو اولکونو مجلی ، کتابونه ، اخبارونه او نور مواد د نرغوندی له سره ځارکړل - نو نه پوهيږم سپی حساب به چا نيولی وی خو د زياترو ځښو ونکو دا ټکل له مخی باره په ميليارد ونو ډالره خو بی په دی ارمان ولگول چی که خدای وکړی او د يوه افغانستان څخه دری څلور هيوادونه جوړ شی او هغه هم په کراره شپه تيره نه کړی ، بلکی چی تل سره خوری او يو د بل په وژلو اخته وی - لنډه داچی بهرنی لاس وهنی دومره بربنډی او له چوکاټه وتلی وی چی نوره پری تمامه وه خو هک پک حيران يم چی دا ولی يو شمير خلک د ړوی ړندا ورځی په دغو واقعيتونو سترگی پټوی او يا د هغه حالت خطر بی ارزښته ورته ښکاری ، نه پوهيږم دا به څه چل وی ؟ ولی بيا هم يو شمير افغانانو ته د همدومره پردی لاس وهنی سره سره غوسه نه ورځی ، درد نه احساسوی او خولی يې لری - آيا افغانانو خپل يو نيم مليون بچيان د همدی روسانو او د هغوی د لاس

پوڅو د ورکاوی او بی دخله کولو د پاره قربانی نه کړل ؟ آيا دا ټول هيواد مو لويشت په لويشت په همدی غورځو پرځو کی او د همدغو دښمنانو پر سرکښو کېږ او لوټه لوټه نه کړ ؟ آيا وږوږو دالوزنه وکړی چی مونږ په يو سم شرعی نظام قانمو ؟ نو آخر دا اوس څه چل شوی چی بيا هم د هماغه روسی جنرال نه وسلی او پيسی را اخلی ، د شرعی او اسلامی قوانينو مخالفت او دښمنی کوی او بيا ځانته مجاهدين (!) وايی ! دا ډيره د افسوس خبره نه ده ؟ آخر استقلال او خپلواکی دی ته وايی چی سړی د روسی جنرالانو په غوښتنه د هيواد تجزيې ته ملا وتړی او د هغوی په توپونو خپل مسلمان افغان ورور وژنی ؟

دا ټول هغه حقايق دی چی بايد هر افغان بی په ډير غور او څيړنه وسنجوی او د هيواد د خپلواکی ، اسلامی هويت ، ملی او تاريخی ويا ړونو او ځمکنی بشپړتيا اصلی خادمان او ساتونکی او ددغو ارزښتونو پلورونکی او ملی خائنان سره وپيژنی - د افغانستان اسلامی امارت په هيواد کی همدغه لوی ارمان ته اوږده ورکړی ، په ډيره رښتينولی بی گامونه اخيستی او په دی لار کی بی قربانی او ډيره گرانه بيه ورکړی ده .

هوکی ! د هيواد ملی سالميت او ځمکنی بشپړتيا ساتل بی شکه يو لوی ملی

۳مخ

ای قاصد صلح

عبدالرحیم ثاقب

ای قاصد صلح
از دیر وقت به این طرف
از سالها ،
از ماه ها ،
در انتظارت بودیم
بهر سو،
بهر طرف،
بهر کوچه ،
بهر روزنه،
نظر میکرذیم
مینگریستیم
به امید آمدنت
به آرزوی قدومت
چشم ها در انتظارت بود.
از بسکه رنجها دیده بودیم.
دربدریها ،
بی وفائیها ،
همه ،ما ،
آری همه ما
مشتاق لقایت بودیم
ولی قدوم میمونت تأخیر شد
از تاخیر آن میرنجیدیم
و میدردیدیم
وطن سراپا ظلم بود ،
تجاوز و غارتگری ، بود ،
تعدی و بی عدالتی اجانب ازهرسو تهدیدمان میکرد
داد و دلسوزی از کاشانه ما رخت بربسته بود
از صمیمیت و محبت نشانه ، نمانده بود
اخوت و برادری کلبه مارا پدرود گفته بود .
نه گل مانده بود و نه بلبل
لاله ، داغدیده از تاثر زمان داغدیده تر نمایان میشد
درین لحضات آمدنت ضرورتی بود
ضرورت با اهمیت.
تا آنکه پرتو لطف ایزدی تابش نمود
و تو ،
بلی تو ،
از کرانه ویرانه وطن درخشان شدی
درخشثت بشارتی بود برای همه مظلومان
جبیره ، بود برای همه الم دیده گان
به استقبالت جانها شتافتند
درخشثت مژده صلح آورد
مژده اقامه عدل الهی
مژده حاکمیت خلافت اسلامی
مژده ازبین رفتن همه بی عدالتی.
به آمدنت می نازیم و می بالیم.
زیرا که تو،
پیام آور رحمت استی
پیام آور اخوت و صمیمیت
رسالتگر سعادت و مسرت
بلی این همه تو استی ای طالب صلح
خوش آمدی
ای قاصد صلح
خوش آمدی ای قاصد صلح
خوش....

د شعر او ادب پاڼه

چي کـشـور د افـغـانانو مـعطر کـا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

ستړی مه شی

ملا اسدالله «حنیفی»

دآزادی د باغ مـالیـاره سـتـړی مـه شی
په خـزان پسی بهـاره سـتـړی مـه شی
چی دی ورانی کـړی مـانی د غـاصـبانو
مـلالی نسله سـرشـاره سـتـړی مـه شی
تا هر وخت کی لوبولی غـیـرتونه
د همت په پت سنگاره سـتـړی مـه شی
تا ثری کی د غـیـرت وینه توده کـړه
شـجـاعـت د کـور مـعـمـاره سـتـړی مـه شی
په رښتیا چی د محـمـود تنگیالی خوی نی
جـور له تنگه شـهـرباره سـتـړی مـه شی
د فـسـاد خـونه دی ورانه کـړه وطن کی
د دیـمن د سـتـرگـو خـاره سـتـړی مـه شی
چی ویده زړونه دی ویښ کـړل و جـهـان کی
ای مـخکښ سـپـه سـالاره سـتـړی مـه شی
د سنگر په خـوش بوئی مـعـطـر راغلی
خـپلواکی په می خـمـاره سـتـړی مـه شی
حنیـفی سـتـا کـارنامـو ځینی لوگی شـه
سـتـړی مـه شی هزار واره سـتـړی مـه شی

کابل ته د فاتح شهید خطاب

ملا محمد اصغر عاکف

مونږ ښایسته ډیر ملگری یو له یو بل سره تل وینو سنه ناسته ولاړه لرو او خدای سته سنه سات مو تیر دی د جمعی مبارکه شپه خو هسی هم شهدا ، صالحینو ته دروړو ځکه چی هغوی خو مو انډیوالان دی لاره او گودر مو سره یو او په ژبه هم سنه سره پوهیږو .

خو گوره کابله ! راته ونه وایی چی ناځوانو ناځوانی مو راسره وکړه آخر یوځل خو به مو لږ سر را ښکاره کړی وو چی زما د فتحی په خوشالی کی مو یوه خوله خندا سره کړی وای او د لاسو ترک مو سره ایستلی وای . ځکه چی زموږ د ټولی خو همدغه یوه نیمگړتیا ده چی له هاغی دنیا وزرونه راټیوو ستړی ستومانه ځان راورسوو مگر دلته مو څوک له سره پیژنی نه ، په رڼو سترگو سره گورو څوک مو تش سلام نه علیک کوی کنه نو ځنگه به دی هیروو ، موږ خو د تا د هغه فاتح لښکر مخکښان وو چی دادی ځراغان یی کړی .

گوره کابله ! د ببلتانه حیبړه ډیره سخته وی او د ناترسه غلیم په تیره تیر د تنکیو طالبانو وزرونه ماتول هم زور غواړی مگر پاک خدای دومره رایاندی وکړولی چی دتا په سر مو هرڅه په ځان ومنل ، زموږ بد نونه خوله گانونه وجوړ او نه د مـو دیوالونه وو ، که غلیمانو ته مو په تیغه تهر نه وای ور وړی نو دومره په آسانی به مو وینه نه وه بهیدلی خو خبره په داوه چی لا به یی رنگولی او کړولی .

گوره کابله ! موږ ملگری خو د گوتو په شمار څو کسان نه یو چی خپل قبرونه درته وښایو او یادی شاوخواته د فتحی په درشل کی په هغو ځلیو ودروو او بیا درته ووایو چی دغه دی زموږ د مخلصو وینو ځایونه . موږ دانه درته وایو چی د خپل فاتح لښکر د شهیدانو په قبرونو گلان وشینده او یارنگین بخملونه ورباندی وغوړوه بلکی یواځی دومره درته وایو چی په خپله هوا کی پاس وزرلرونکو مارغانو ته تل سلام علیک ، کوه او لږ ورته گوره !

راځی !

فرید «حبیب زی»

راځی ، راځی چی تورتمونه وژنو
توری تیاری او ماښامونو وژنو
دا تریگنی او دښمنی ختمی کړو
کلی په کلی نفرتونه وژنو
چی خوشحالی مو د زړه کورته راشی
یو بل ته وخاندو غمونه وژنو
توپیر د هغی دغی ورک کړو ترمنځ
د دښمنانو پلانونه وژنو
فرید ناری کړی سوله ، سوله غواړی
واړه په گډه دا جنگونه وژنو

وطن

مستقیم

وطـنـدار دلـیـــــــر من بنـازم بـازوانـت را
وطن در انتظار نیـروشـسـت کـسـمـان تست
به برو از آو شاهین شو به خجدان خویشتن رازان
بکن بال و پر بومـان کـه آنجـا اشـیـان تست
جـهـان یکسـر نمی ارزد بااین بی خـانمانی ها
جهان خود بدست آور کـه آنجـا خـانمان تست
نیـاکـان تو بگذاشتند با صـد همت و غـیـرت
توهم برخیز و رستاخـیز کن کاینک زمان تست
بنـازم بـازوانـت را وطـنـدار عـــــزیـز من
بمـیـدان آمـدن با تیغ امـروز امـتـحـان تست
مـسـلـمـان زاده ، مـسلم نبـاز امـد ازین سودا
تو روز و شب چه می خـواهی همه روز و شان تست
زمـیـن و آسـمـان را آفـریـد ایزد برای تو
فـسـاد و فـتنه را بزد از زمـین و آسـمـان تست

... ورځه نور هیڅ نه سبی ...

ارمان دی او دا به د اسلامی امارت په نامه د هیواد په تاریخ کی د یو همیشنی ویاړلی سرلیک لاندی داسی وکښل شی چی د هیواد راتلونکی رښتینی او حق منونکی بچیان به یی د خپلو نیکونو له ویاړه ډکه تاریخی کارنامه بولی . داسی کارنامه لکه د احمد شاه بابا او میرویس نیکه چی هیڅوک یی بیکاره نه شی تعبیرولای . د اسلامی امارت ددغی کارنامی تول او درنښت خو په دی نه کمیږی چی یو شمیر شخصیتونه یی د خپل انانیت او ناروا ضد له کبله په خوله نه شی اخیستلای او یو شمیر یی بیا د هماغو بهرنیو دوستانو د خوابدی له لاسه په هر صورت دا بیا هم یوه لویه تاریخی کارنامه ده چی د ډیرو پردیو لاس وهونکو لاسونه غوځ ، ارمانونه یی په سیند لاهو او دادی د افغانستان ملی سالمیت او ځمکنی بشپړتیا ترسره شوه او هغه څه ستونزی چی لا هم د هیواد په یو گوټ کی پاتی دی ، د همدی مخلصو او مجاهدو هیواد والو په هلو ځلو او قربانی به ختمیږی او هغه ورځ لری نه ده چی افغانان د یو آزاد ، خپلواک او اسلامی هیواد ارمانونه ترسره او خپلو مجاهدو او شهیدانو پلرونو ته په دی کارنامه دعاگانی وکړی - ددی لوی ارمان ترسره کیدل له مېرڅېو هیواد والو ددی غوښتنه هم کوی چی باید د دښمنانو او مغرضینو د تبلیغاتو لاندی راته شی ، د خپل اسلامی امارت د لاسـبالولو ، پرمخ بیولو او د هغه د نیمگړتیاو د پوره کولو د پاره په خپل ټول زور او قوت هڅه او هاند وکړی او که چیری د چا ځانی گټو ته څه زیان رسیدلی وی او یایی د امارت نه څه وړه خوابدی لیدلی وی نو باید د هیواد ددغو لویو ملی گټو په خاطر له خپلو ځانی غوښتنو تیر شی او د تاریخ د سترو قهرمانانو په څیر د خپل مسلمان ملت او گران هیواد د سوکالی او ودانی د خدمت په لاره کی خپل نوم ژوندی وساتی - نو راځی اوس خو دا ومنو چی ورځه د اسلامی امارت نور هیڅ نه سبی خو دا یوه یی لویه تاریخی کارنامه ده چی ډیر پردی لاسونه او د پردیو د پاره جوړی شوی پاچاهی گانی یی له منځه یوړی او ایکی یوه افغان واکمنی یې پکی ټینگه کړه .

داصحابو د ژوند پلوشې

۲۴

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

ابو عبیده خپل پلار نه دی وژلی بلکی ده پخپل پلار کې شرک وژلی دی.

الله تعالی د ابو عبیده او د هغه د پلار په شان کې قرآن نازل کړی او د هغه لوړ کلام دادی :

ترجمــه : ته به نه مومی یو قـوم چې پر الله او د آخـرت پر ورځ بې ایمان راوړی وی چی دوستی به کوی له هغـه چا سره چې هغه د الله او د هغه د رسول څخه مخالفت کوی اگر که (مخالفین) د هغوی پلرونه ، د هغوی زامن ، د هغوی وروڼه او د هغوی خپلوان وی ، (الله) ددغه قوم په زړونو کې ایمان لیکلی دی ، او دوی بې له خپل نزده قوی کړی دی ، او دوی به په جنتـونو کـې داخل کـړی چی د هغـو (دونو او مـانیـو) لاندي (څلور ډوله) وبالي بهیږی ، اللهُ له دوی څخه راضی شوی ، او دوی له ده (اللهُ) څخه راضی شوی دی . دغه کسان د اللهُ ډله ده خبردار شئ چې د اللهُ ډله بریالی او په مراد رسیدونکی ده .

***

د ابو عبیده دغه کار د کوم تعجب خبره نده ځکه په اللهُ باندي د هغو قوی ایمان او د دین په باب د هغه نصیحت ، او د حضرت محمد صلی الله علیـه وسلم د امت په باب د هغـه امانتـداری تردي اندازې وه چې د لویو لویو شخصیتونو خاوندانو ددهٔ په لوری خپلی سترگی نیولی وی .

محمد بن جعفر روایت کړی دی او ویلی یی دی :

د نصـرانیـانو یوه ډله رسـول الله صلی الله علیـه وسلم ته راغله او داسې یې وویل :

ای ابو القاسـمه ! مونږ سره له خپلو ملگرو څخه یوتن چی ستا خوښ وی ولیـږه ، څو زمونږ په منځ کې د هغـو مـالونوپه باب چې په کـې مو اختلاف شـه فیصله وکړی ځکه تاسی زمونږ په نزد منلی یئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل :

ماته د شپی راشئ څو تاسی سره قوی او امین واستوم .

عمر بن الخطاب وویل :

د ماسپښن لمانځه ته وختی لاړم او ځنگه چې امارت نن ورځ راته ښه ښکاره شو ، په نورو وختونو کې زما نه خوښېده ، او په دغه ورځ مې ځکه خوښ شو څو ددغه صفت خاوند زه واوسم .

کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماسپښین لمونځ وکړ نو بیا خپلی ښی او کیڼی خواته په کتلو شو ، او ما به ځان ورته اوږد کړ څو ما ووینی نو ده هری خواته کتل ترهغه چې ابو عبیدة بن الجراح یې ولید او هغه یې ځان ته وغوښت او ورته یی وویل :

د دوی سـره لاړ شـه او د دوی په منځکې د هغـه څه په باب چې پکی اختلاف وکړی په حقه سره فیصله وکړه .

دغه صفت ابو عبیده ترلاسه کړ .

***

ابو عبیده یواځی امین نه ؤ بلکی د امانت سره قوت یی هم جمع کړی ؤ ،او دغه قوت په ډیرو ځایونو کی ورڅخه ولیدل شو.

دغـه قوت په هغـه ورځ ښکاره شو چی کله رسول الله صلی الله علیـه وسلم د قـریشـو د یوې قـافـلې په لورې د خپلو ملگرو یو ټولگی ولیږه نو ابو عبیده (رضی الله عنه و عنهم) یې پر هغو مشر وټاکه ،او هغو ته یې د خرما یوه خلته چې یې له هغې څخه بله نه وه خرڅې ورکړې.

بیـا ابو عـبیـده د خپلو ملگرو هر تن ته به د ورځې یوه دانه خرمـا ورکوله ، او هر یوه به د خرمـا دانه په خوله کې داسـې ځیښله ځنگه چې ماشوم د خپلې مور تی روی او بیا به یې وربپسی اوبه چښلی ، او دغه یوه دانه خرما به د هر تن د پاره ټوله ورځ بسیدله .

***

کله چې مسلمانانو د احد په ورځ ماتې وکړه ، او د مشرکانو جار چی په داسې غږونو شو :

ماته محمد وښیئ ، ماته محمد وښیئ

په دغـه وخت کی ابو عـبیـده د لسـو تنو په ډله کې ؤ چی د رسـول الله صلی الله علیـه وسلم په شا او خـوا کې حاضـرؤ ، او له هغه څخـه بی پخپلو ټټرونو سره د مشرکانو د غشو مخه نیوله .

کله چی جنگ پای ته ورسیـد نو د رسـول الله صلی الله علیـه وسلم رباعی غاښ مات او تندی یې زخمی ؤ ، او د اوسپنی د خولی دوی کړی د هغه په مخ کی ننوتلې وی.

پاتي لري

د ستري محكمي ...

غوښتونکو اشخاصو مخه په جدي ډول ونيسي. د مثال په ډول هغه اشخاص چې له قاضيانو سره په قرابت او نږدې والي سره او محکمو ته په بې ځايه او له ضرورت پرته تګ راتګ سره د خلکو ترمنځ خپل رسوخيت ځرګند او استعمالوي او يا له خلکو څخه کوم شي اخلي او په هغه کې د محکمو قاضيان هم شريک ښي او دغه راز بايد هغه اشخاص چې ناسمه سابقه لري او په خلکو کې منفور او بد نامه وي محکمو ته له تګ راتګ څخه منع کړای شي ترڅو د محکمو د بدنامي سبب نشي.

محترم قاضي القضات او د ستري محکمي رئيس زياته کړه.

نو د محکمه کې د کاتب او محرر د کمبود په صورت کې او يا د هغه د اهليت او قابليت د نقصان په صورت کې په خپله قاضيان بايد پريکړې او قرارونه وليکي ترڅو په محکمو کې اجراات معطل او يا مختل نشي بلکې زما په نظر کله چېرې په محکمو کې د اهليت او قابليت خاوند محررين هم موجود وي بيا هم ترکومه ځايه پورې چې د قاضيانو وس او طاقت رسيږي بايد په خپله پريکړې او قرارونه وليکي.

ځکه قاضيان د محررينو په نسبت د موضوع د ماهيت او مضمون په باب پوره معلومات او ښه تسلط لري.

محترم قاضي القضات زياته کړه: د محکمو قاضيان بايد په پريکړو کې د راي لفظ له استعمالولو څخه ډډه وکړي بلکې د هغه پرځای دې د حکم کلمه ذکر کړي او هغه هم په ماضي صيغې سره او هم بايد په پريکړو کې ټرد او احتمالات موجود نه وي بلکې په هغو کې بايد قطع او جزم موجود وي او دغه راز بايد په پريکړو کې په پورتني او يا ښکتني برخه کې د هر قاضي د لاسليک په برخه کې د هغه نوم په واضح ډول ليکل شوی وي چې په هر وخت اوزمن کې معلوم وي او د پېژندل شي چې پريکړه او لاسليک د کوم قاضي دي.

ورپسې د ستري محکمې د دارالانشا د رياست او د اداري رياست د پيشنهادونو او د استهداګانو د حل د کميسيون او د تجديد نظر د کميسيون د نظريو او دغه راز په اجندا کې د درج شويو مادو او موضوعګانو په باب په دقيقه او هراړخيزه توګه خبري اترې وشوې. په هره برخه کې د عالي شورا له خوا تصويبونه وشول او اړوندو مراجعو او محکمو ته ابلاغ شول.

ايجاد ۲۸ پروژه ...

در اين جلسه پس از غورو بحث روى اجنداى مطروحه به تعداد بيست وهشت پروژه توليدى و خدماتي از قبيل پرژه هاى توليد يک بوت، مشروبات غيرالکولى، جوس و مربا سازى، مخابراتى، کرکرد سازى، حجارى و نجارى و ساسيليت مطبعه ذوب آهن شرکت دي ساختماني تهيه و توليد مواد ساختماني، مصنوعات پلاستيکي، توليد آش، مکروني، بسکيت، ظروف المونيمى و نکلى، چاکليت سازى، يخ سازى، آيسکريم، روغن و صابون سازى به سرمايه ابتدائي پنجاه و هفت مليارد و دوصدو پنج مليون افغاني و سرمايه انتهائي هشتادو پنج مليارد چهارصدو پنجاه و دو مليون افغاني مورد تاييد بورد انسجام سرمايه گذاري خصوصي قرار گرفت.

با فعال شدن اين پروژه ها زمينه كار براى يكهزارو يكصدو بيست وچهار نفر هموطنان ما مساعد ميگردد.

کار احياي شبکه آبرساني ..

گرفته و يکهزار خانواده از آب صحى شبکه متذکره استفاده مى نمود که بالاثر حوادث ناگوار طبيعى و کمى آب جريان آب در چاه هاى کاريز متذکره قطع گرديده و باعث مشکلات براى اهالى آنجا گرديده که از اثر تقاضاى مردم محل کار پاک کارى کاريز و رفع عوارض شبکه متذکره به کمک مالى موسسه فوکس توسط موسسه رادا به همکارى مردم محل ديروز آغاز گرديد.

شبکه متذکره با داشتن دوهزار وپنجصد متر طول داراى دو بخش بوده احياى دوباره آن در چهار ماه آينده به پايه اکمال خواهد رسيد.

ا.ا.ا يگانه حکومت ...

بگويد: هکذا در قبال تطبيق سياست چهار سال گذشته، طالبان در کشور، مردم چه حرف ها و چه گفتنى هاى دارند ترتيب داده است که توجه شما عزيز دوستان را به خوانش آن فرا ميخوانيم:

بايد تذکر داد که نظريات ارائه شده درين گزارش تبارز انديشه، ذوات صاحب نظر و کار شناس مى باشد.

محترم نصر الله «ستانکزى» استاد فاکولته حقوق پوهنتون کابل و صاحب نظر در امور سياسى:

در قبال سياست خارجى ا.ا.ا طى چهار سال اخير ايالات متحده امريکا يک جبهه فراگير قوى را اتخاذ نموده است که هيچگاه ازموضع اتخاذ شده، خويش عقب نشينى نمى نمايد: متقابلا ا.ا.ا نيز در روشنايى همين سياست وسيعا حرکت دارد، به اين معنى که در تلاش است تا اگر بتواند آنکشوررا متقاعد برسميت شناختن ا.ا.ا بسازد. على الرغم اين سياست امروز در جهان سياسى بسا کشورهاى هستند که با ايالات متحده امريکا جبهه مخالف ستراتيژيکى دارند و ممکن در حقيقت امر اين سياست امريکا را در قبال طالبان تائيد نکنند: بنأ بر دولتمردان سياسى ا.ا.ا لازم است تا با مطالعه اوضاع سياسى همچو کشورها روابط سياسى واقتصادى خويش را در فضاى تفاهم با آنها تأمين نمايند و آنها را از حقايق موجود در افغانستان آگاه سازند: هکذا متکى به اين نشوند که چه وقت امريکا مارا برسميت مى شناسد.

ما هم اکنون درنقشه سياسى جهان مثال خوب و زنده، همچو کشورها رابا خود داريم که طورالگو ميتوان ازکشور فرانسه، چين، ممالک افريقايى، برخى از کشورهاى خليج و ... نام برد.

محترمه سويتا «نورى» قبلاً محصل انستيتوت طب کابل فعلاً مصروف در امور منزل واقع مکروريان اول شهر کابل:

از آنجائيکه آموزش علم بر هر مرد وزن مسلمان فرض است و امروز ا.ا.ا برحسب مقتضاى زمان و شرايط نا مساعد درکشوررونزنه هاى تعليمى وتحصيلى را بروى زنان مسدود ساخته است ترديدى نداريم. ما اين امر را اولويت ميدهيم که امروز در چار چوب منزل مصئون و با عفت زندگى ميکنيم. شرايط فعلى جامعه ما ايجاب نميکند که زنان به امور تعليم و تحصيل خويش بپرازند: اصلاً اين خواسته بيست و دو سال پيش جامعه، ما بود که بايد به مصلحت سردمداران وقت بالاى زنان تطبيق مشد: اما اينکه رژيم هاى سلف تن به اين خواسته ندادند و از همين نقطه زوال شدند. حرفيست خارج از دائره سخن ما.

من به عنوان يک زن روشنفکر افغان که هيچگونه وابستگى با طالبان ندارم امروز سياست طالبان را در قبال زنان افغانستان از هر حيث تائيد ميکنم: اما حرف قابل ملاحظه، ما زنان در قبال سياست کنونى طالبان اين ميباشد که با حاکميت سرتاسرى در کشور، قطع جنگ و خونريزى و جمع آورى سلاح بايد پس منظر زنان افغانستان در آينده، حکومتدارى طالبان روشن شود وزنان بيشتر ازاين منحصر به امورمنزل مقيد نمانند.

محترم شيخ على احمد «فکور» طبيب و کار شناس تجوه:

در موجوديت دشمنان داخلى وخارجى، تعزيرات اقتصادى وعدم برسميت شناختن کشور از جانب ملل متحد، ا.ا.ا يگانه حکومت به حساب ميرود که طى چهار سال مقاومت در جبهه نظامى و سياسى کوچکترين عقب نشينى ازموضع خود ننامنده است: بنأ روى همين ثبات کفته ميتوانيم که آينده اين نظام در کليه عرصه ها کامياب و تضمين شده ميباشد.

يگانه مشکلات مردم طى چهار سال اخير در چوکات اين امارت اقتصاد ضعيف ملت و بيکارى مردم مى باشد که دليل بيکارى هم تداوم جنگ در کشور مى باشد، ليکن با وجود اين همه مشکلات نشانه هاى بزرگ از تحرک و فعاليت وجود داردکه عظيم نشانه، اين تحرک آغاز ترميم و قيرريزى شاهراه کابل - کندهار به حساب ميرود.

سيد عبدالصمد «امين» محصل صنف چهارم پوهنځى حقوق و علوم سياسى پوهنتون کابل:

اخبار، راديو، کستونر، انترنت و .. اينها همه درنفس خود يک دانشگاه فرهنگى تلقى ميگردند که با دست نفس مردم درين عرصه ها سياست فرهنگى کشور بيشتر از هرزمان ديگر متمدن و مترقى ميگردد.

خوشبختانه امروز دست اندرکاران فرهنگى در کشور از امتياز همين پديده هاى فرهنگى غنى هستند. ما از مقامات فرهنگى ا.ا.ا تقاضا داريم تا بيشتر ازامکانات امروزى در جهت رشد وتقويه سياست فرهنگى درکشورکوشا شوند و گام هاى تعين کننده بردارند. خوشحال هستيم که با حاکميت امارت اسلامى سياست فرهنگى کشور براى نخستين بار بر مبناى انديشه، واقعاً اسلامى و انسانى جريان پيدا نمود.

در حاليکه اين سياست طى رژيم هاى ناکام قبلى هميشه متکى بر اکاذيب واراجيف در دوران بود.

محترم سيد محمد نواب «حيدرى» نماينده اهل تشيع در افغانستان:

افتخارات ٤ سال حاکميت طالبان در قبال برادران اهل تشيع را ميتوان چنين خلاصه کرد:

١- پرده مبتذل و سياه که سالها بنام تعصب شيعه و سنى در کشور دامن زده ميشد با قدوم مبارک طالبان در کشور از هم برچيده شد.

٢- برادران اهل تشيع ازآزادى کامل بيان، قلم ومذهب مستفيد شدند.

٣- آسايش و آرامش مذهبى را که ما حالا دربيشتر از (٣٠٠) تکايا در شهر کابل احساس ميکنيم در هيچ يک از دوره هاى تاريخ بياد نداريم.

٤- علما اهل تشيع اعلام داشته اند که حمايت و جانبدارى از ا.ا.ا وظيفه فرد فرد ساکنين اين خطه اسلامى ميباشد.

محترم حاجى محمد کبير مرد ٦٨ ساله باشنده شهر کابل، از جمله منتظرين روز يکشنبه دفتر تيلفون بيسيم افغان در پسته خانه مرکزى وزارت مخابرات:

ما در رژيم هاى گذشته به منظور تأمين دو دقيقه صحبت تيلفونى با دوستان خويش در خارج مجبوربوديم که يک هفته به کشورهمسايه، خود پاکستان سفرکنيم تا مراد دل ما حاصل شود: مگر امروز از برکت استقرار نظام امارت اسلامى درکشور تسهيلات هرنوع مخابره داخلى و خارجى در بين خانه و کوچه هامسر شده است.

همينکه من امروز از نزديک ترين محل منزل خويش درکابل با يکى از دوستانم درهالند صحبت نموده، نشاندهنده، اين حقيقت مى باشد که طالبان طى ٤ سال حکومتدارى خويش در افغانستان خدمت نموده اند.

در بخش ارتوپيدي ...

دکتورمحمد نذير «شيرزوى» متخصص جراحى اورتوپيدى اکادمى علوم قواى مسلح ا.ا.ا انجام داده است که اينک غرض اگاهى شما عزيزان به نشر سپرده ميشود.

پرسش: محترم دکتور نذير! لطف نموده واضح سازيد که تأثيرات تعزيرات اقتصادى امريکا تا کدام حد در کشورملموس است؟

پاسخ: وضع تعزيرات اقتصادى مستقيماً بالاى مردم بيدفاع و مظلوم افغانستان تأثيرات سؤ دارد. مردم ما در سالهاى جنگ واقعاً رنج هاى زياد ديده اند و هستى شانرا در آتش جنگى که ساليان دراز طول کشيده از دست داده اند اينک در محاصره، اقتصادى که خود نوع ديگرى جبهه گيرى نيروهاى ضد اسلام و افغانستان است قراردارند. اما افغانها با همت بلندى که دارند و با توکل به پروردگار در مقابل انواع ناملايمات تحمل خواهند داشت.

پرسش: محترم دکتور نذير! آيا گفته ميتوانيد که تأثيرات اين محاصره اقتصادى در بخشهاى صحى تا چه حد قابل درک است؟

پاسخ: در بخش صحى نيز مانند ساير عرصه هاى زندگى اقتصادى و شايد هم بيشتر اين تعزيرات قابل درک است، زيرا باقطع پرواز هاى خارجى طيارات آريانا افغان هوايى شرکت امکانات تهيه وسايل مورد نياز طبى و تهيه ادويه نيز قطع گرديده و اين خود کمبود جدى را در حل مشکلات صحى و نيازمندى هاى مردم ما بار آورده است. ما پرسونل بسيار مجرب صحى را در دست داريم واگر وسايل مدرن طبى را در اختيار داشته باشيم مى توانيم خدمات بيشتر وسودمند ترى بمردم خود انجام دهيم تا حد اکثر از رفتن مردم به خارج کشور جهت تداوى جلوگيرى گردد. در صورتى که تعزيرات برداشته شود خدمات بهتر و بيشتر صحى در داخل کشور براى مردم ما ميسر خواهد بود و مردم ضربه هاى کمر شکن اقتصادى را بر پيکر اقتصاد خود تحمل نخواهند کرد.

پرسش: محترم دکتور نذير! از عمليات هاى فوق العاده و مؤفق شما هميشه ياد ميگردد و اخيراً گفته مى شود که شما با کارهاى خود توانسته ايد تا حدود زيادى از قطع عظام دست و پاى مريضان تان جلوگيرى کنيد. دراين مورد توضيح دهيد؟

پاسخ: در بخش اورتوپيدى شفاخانه که تحت نظر پروفيسوران ورزيده چون موسى وردک و عبدالرزاق سياوش نظارت ميگردد هموراه در عرضه خدمات بهتر و بيشتر صحى به مريضان توجه صورت ميگيرد و عملياتى که در بخش ما صورت مى گيرد با استناد به ژورنال طبى سال ١٩٩٨- ١٩٩٩ جراحى اورتوپيدى مکتب سيکوت گفته مى توانيم که حتى بر عمليات هاى درج شده در اين ژورنال تفوق داشته است.

من شخصاً در قسمت اعاده مفاصل حدود ١٣ - ١٤ عمليات موفق را انجام داده ام. بطور مثال جوانى راکه در اثر افتادن مفصل قسمت هانش او شکسته بود و چندين بار در کشورهاى همسايه عمليات وى صورت گرفته بود اما نتيجه، نداده بود من توانستم با إعاده، مفصل مصنوعى کمک بزرگى بمريض خود انجام دهم که فعلاً شفاياب گرديده است. هم چنان توانسته ام عمليات اعادوى را براى ازدياد حجم حرکات مفاصل که حتى ١٠-١٢ سال حرکت نداشت انجام دهم و مفاصل را دوباره بکار اندازم. هم چنان توانسته ايم در قسمت اعاده ديفکت هاى عظمى با استفاده از وسايل مختلف کمبود هاو کوتاهى هاى عظام (استخوانها) را تا حدود (٢٥) سانتى متراعاده کنيم. به همين ترتيب سؤ تشکل وخيم اطراف را اصلاح کنيم و در نتيجه، عمليات فوق ما حد اکثرتوانسته ايم از قطع عظام مريض جلوگيرى کرده و ازرفتن مردم بخارج کشور جهت تداوى جلوگيرى نمائيم.

به جرئت ميتوان گفت که عمليات اعادوى عظام که در جهان کمتر نظير دارد در کشورما و فقط در بخش اورتوپيدى اکادمى علوم قواى مسلح صورت مى گيرد.

براى دکتور پرتلاش وزحمت کش محمد نذير «بشير زوى» توفيق خدمت بيشتر بمردم را آرزو مى کنيم.

په کابل کې دوه تنه ...

ونيول شول او د قانون منګولو ته وسپارل شول.

د کابل ښار د پوليسي امنيتي حوزې موظفينو د خپلو هميشنيو فعاليتونو په دوام په دې وروستيوځنو کې دوه تنه غله چې د پوليسي ناحيې په مربوطاتو کې يې دري چينايي بايسکلونه غلا کړي ؤ ونيول او غله يې د قانون منګولو ته وسپارل.

له غلو څخه ترلاسه شوي بايسکلونه بيرته اصلي خاوندانو ته يې سپارل شويدي.

د ګرديز - خوست ...

مترد کيږي دوغه ولايت د سرکونو د څارنې او ساتنې د امريت له خوا پيل شو.

ددغه سړک د ترميماتي کار د پيل په مراسمو کې د خوست ولايت کفيل محترم ملا عطاجان، د اوبو او برېښنا رئيس محترم حافظ محمد، د سرکونو د ساتنې او څارنې محترم رئيس او ددغه ولايت يو شمير نوروامارتي چارواکو ګډون کړی ؤ او ددغه ولايت محترم کفيل د ترميماتي کار د ګړندي کولو په لاره کې اړوندو چارواکو ته لازمي لارښووني وکړې.

د ايران دولت...

تيار دی د افغانستان له اسلامي امارت سره د فرهنګي همکاريو د پراختيا په لاره کې زياتې هلې ځلې وکړي.

په پای کې د ايران هيواد جنرال قونسل بوسلو ځلوبيت توکه علمي کتابونه د هرات عامه کتابتون ته ورکړل چې په کور وداني سره ومنل شول.

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	USS75	USS150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Ghulam M.Farooq
Printed by: Emiate Printing Press